## UNICEF-UNHCR د ماشومانو لرونکو کورنیو سره د ماشوم د ودې او زده کړې پروګرام لپاره د نغدو پیسو له لارې مرسته کوي

### په سلواکیا کې د ماشوم د ودې او زده کړې پروګرام لپاره د UNICEF پیسو موخه څه ده؟

له دې څخه موخه دا ده چې د ماشوم د زده کړې او پالنې لګښتونه تر پوښښ لاندې ونیول شي؛ د دې لپاره به UNICEF له UNHCR سره په ملګرتیا د سلواک جمهوریت ته نغدي پیسې ورکړي تر څو دغه هېواد له 0 تر 17 کلنو ټولو هغو ماشومانو ته د زده کړې او پالنې آسانتیا برابره کړي چې له "Prídavok na diet'a" څخه ګټه نه اخلي.
د دې نغدي مرستې موخه د ښوونځي اړونده لګښتونه تر پوښښ لاندې نیول لکه: د ښوونځي اساسي وسایل، په ښوونځي کې ډوډۍ، د ټرانسپورټ لګښتونه، تر تعلیمي نصاب ورهاخوا فعالیتونو او د ماشوم لپاره د زده کړې د ځای او چاپېریال د برابرولو په څېر لګښتونه.

### د ماشوم د ودې او زده کړې د ملاتړ پیسې څوک ترلاسه کولای شي.

په سلواکیا کې تو کدوال (د لنډمهالي خوندیتوب اخیستونکي/"Odidenec") پناه غوښتونکي او بې هېواده کسان تر هغې پورې چې دوی د یوه ماشوم والدین یا سرپرستان وي.

### د ماشوم د ودې او زده کړې په پروګرام کې ګډون څنګه کولای شئ؟

- که په وروستیو کې سلواکیا ته راغلي یاست, یا هم له UNHCR سره ثبت نه یاست، نو تاسې د لاندې فورم په ډکولو سره د یوه ملاقات غوښتنه کولای شئ: په سلواکیا کې د زده کړې لپاره د پیسو غوښتنې لپاره د ملاقات غوښتنه
په سلواکیا کې په ښوونځي کې د شمولیت ملاتړ
- که له وړاندې له UNHCR سره ثبت یاست خو په تېرو درې میاشتو کې مو خپل معلومات اپډیټ کړي نه دي، نو په ازاد ډول کولای شئ چې یو UNHCR د ثبت مرکز چې تاسې ته نږدې وړشئ او خپل معلومات مو اپډیټ کړئ

مهم: د UNICEF د نغدي مرستې لپاره غوښتنلیک باید د سپټمبر 1 2023 وړاندې وسپارل شي کله چې خپل غوښتنلیک وسپارئ، نو بیا به تاسې ته یو لنډ لیکلی پیغام د نوملیکنې د پروسې د ټولو لاربنوونو په اړه در واستول شي.

### نغدي مرسته څومره ده؟

نغدي مرسته به د یوه ماشوم پر سر 150 یورو وړاندې کړل شي. د یوه ماشوم لپاره د پیسو اندازه د ماشوم له تخصیص "Prídavok na diet'a" سره برابر ده چې هغو ماشومانو ته ورکول کېږي چې د سلواکیا اتباع دي.

### تاسې به نغدي مرسته کله ترلاسه کړئ؟

مرسته به تر نوملیکنې 1 میاشت وروسته ورکړل شي. کله چې پیسې درکړل شي، نو بیا به تاسې د تادیې په اړه یو لنډ لیکلی پیغام ترلاسه کړئ. که پیسې د ویسټرن یونین له لارې ترلاسه کوئ، نو باید خپلې پیسې په 20 ورځو کې دننه ترلاسه کړئ. که د خپلې تادیې یا پیسو په اړه کومه ستونزه یا مسأله لرئ، نو باید په اړه یې سملاسي د UNHCR- UNICEF د مرستې شمېرې ته راپور ورکړئ (د اړیکې معلومات یې لاندې کتلای شئ).

د عمومي معلوماتو لپاره، وګورئ help.unhcr.org/slovakia/ همدارنګه تاسو کولای شئ د UNHCR او UNICEF د مرستندویه تیلیفوني لیکې سره اړیکه ونیسئ:
وړیا شمېره: 0800 22 12 30 (له سلواک شمېرو څخه زنګونه)
د ټیلیفون شمېرې چې وړیا نه دي: +421 2 22 11 56 50 (له غیر سلواک شمېرې څخه زنګ) دوشنبه تر جمعې (کاري ورځې), 8 AM – 8 PM

د دې پروګرام په اړه وروستي معلومات به زموږ د ټیلیګرام چینل له لارې خپاره شي: t.me/unhcr_slovakia